

لیکنه او څېړنه : عبدالحق ثاقب

# په غیر اسلامي هېوادونو کې د مسلمانانو اوسېدل

Ketabton.com

اسلام له انده

د نظرونو د شریکولو لپاره : abdulhaqsaqib@gmail.com

اپریل 2023

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لړلیک

سریزه : ........................................................................................................................ 3

لومړی : په غیر اسلامي هېوادونو کې اوسېدل ناروا او آن کفر دی : ........................................................ 4

دویم : په غیر اسلامي هېوادونو کې اوسېدل روا او آن اړین کار دی : ...................................................... 5

غورچاڼ : ...................................................................................................................... 8

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه :

که څه هم له ډېرو پخوا کلونو راپدېخوا لویدیځو هېوادونو ته د مسلمانانو کوچېدل او هلته اوسېدل هغه موضوع ده چې د عامو خلکو او په خاصه توګه د علماوو توجه یې ځان ته اړولې ده ، خو په دې وروستیو کې په اسلامي هېوادونو کې د ګډوډیو او بې ثباتیو له امله دا پدیده ډېره چټکه شوې . لویدیځو او غیر اسلامي هېوادونو هم د مسلمانانو پر وړاندې خپل سیاستونه یا سخت کړي او یا یې هم یو شمېر اسانتیاوې راوستي دي . ځینو یې د مهاجرت لپاره ډېر جدي قوانین طرحه کړي او خینو بیا د مهاجرینو پر وړاندې دا تګلارې اسانه کړي . له بله خوا ، مسلمانانو هم دې هېوادونو ته د مهاجرت په لاره کې هر ډول تکلیفونو او کړاوونو ته زړه ښه کړی. ځینې په خپلو هېوادونو کې د واکمنو چارواکو له بربریت څخه د تېښتې په پلمه ، ځینې د سوداګرۍ ، ځینې د ژوند د امکاناتو د ښه کولو ، او ځینې بیا د عقیدې د خپراوي او دعوت لپاره د غیر مسلمو هېوادونو ته زړه ښه کوي او هلته بیا مېشت کیږي . دا هغه پدیده ده چې له کلونو راپدېخوا په شدت سره روانه ده او همدا لامل دی چې نن په غیر اسلامي هېوادونو کې د مسلمانانو شمېر تر بل هر وخت ډېر محسوس او د پام وړ دی .

علماوو هم غیر اسلامي هېوادونو ته د مسلمانانو د مهاجرت او هلته د اوسیدو په اړه مختلف نظرونه لرلي ، تحلیلونه یې کړي ، اجتهاد یې کړی ، او فتواوې یې صادرې کړي دي . ډېری وختونه په دې فتواوو کې له افراط او تفریط محتوی د هغو مسلمانانو له حالت څخه سرچینه اخلي چې په غیر اسلامي هېوادونو کې مېشت مسلمانان له اصلي مسیره منحرف شوي او په دنیوي خواهشاتو کې ډوب شوي . همدا لامل دی چې ځینې علماء په غیر اسلامي هېوادونو کې د مسلمانانو اوسېدل ردوي خو ځینې نور یې بیا منځلارې دي او له سختو فتواوو څخه ډډه کوي . ځینې علماء په غیر اسلامي هېوادونو کې د مسلمانو مېشت کېدل ښکاره کفر او ارتداد بولي ، او یا ارتداد ته همدا یوه لاره بولي . ځینې یې بیا فسق او فجور بولي ، ځینې یې بیا مکروه بولي ځینې یې روا بولي خو په مقابل کې ځینې بیا په غیر اسلامي هېوادونو کې د مسلمانانو اوسېدل یوه اړتیا او واجب عمل بولي او په اوسني وخت کې دا د مسلمان یو مسؤولیت بولي ترڅو په غیر اسلامي هېوادونو کې مېشت شي .

په دې لیکنه کې مې هڅه کړې د ټولو علماوو اقوال او دلایل تاسې ته وړاندې کړم ، هڅه مو کړې هرڅوک په دې لیکنه کې ځان پیدا کړي او وګوري چې په کومه پلمه له اسلامي هېواده کوچېدلی او د کوم هدف لپاره یې په غیر اسلامي هېواد کې د اوسېدو لپاره زړه ښه کړی .

که څه هم دا پدیده نوې نه ده ، بلکې د اسلامي تاریخ له پیله راشروع ده ، خو په اوسنۍ نړۍ کې دا پدیده تر بل هر وخت ډېره زیاته شوې او د خلکو پام یې ځان ته اړولی دی . نو اړینه ده چې علماء هم د هغو کسانو په اړه په فتواوو کې له ډېر احتیاطه کار واخلي چې په غیر اسلامي هېوادونو کې ژوند کوي . ددوی فتوا ښایي په غیر اسلامي هېوادونو کې په میلیونونو مسلمانانو په سرنوشت پورې تړلې وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ليکنه کې مې هڅه کړې دا علماء په دوه ډلو وويشم، يوه ډله هغه علماء چې په غير اسلامي هېوادونو کې د مسلمانانو اوسيدل ردوي ، او بله هغه ډله چې هلته مهاجرت او اوسېدل تاييدوي . ددوی نظرونه او تحليلونه په لاندې توګه تر بحث لاندې نيسو :

## لومړی : په غير اسلامي هېوادونو کې اوسېدل ناروا او آن کفر دی :

ځينې علماء چې په غير اسلامي هېوادونو کې د مسلمانانو اوسېدل منعه کوي او يا دهغه ځای جنسيت اخيستل ناروا بولي . دوی فکر کوي چې په دې کار سره غير اسلامي هېوادونه ځان ته دا فرصت په لاس ورکوي چې په اسلامي هېوادونو کې د کار کولو لپاره د ځان لپاره ملګري او جاسوسان پيدا کړي . په دې وروستيو کې ، هغه علماء چې په دې آند دي مبنا يې د هغو تونسيانو په اړه ده چې فرانسويانو ورته د تابعيت ورکولو وړانديز کړی وو ، دوی ګومان کاوه چې فرانسې په دې خاطر د تونس خلکو ته د تابعيت ورکولو وړانديز کړی ترڅو په هغه هيواد کې د جاسوسانو شمېر زيات کړي او بالآخره دوی په خپل کلتور او دين کې منحل کړي . دا ډله علماء پر دې مبنا په غير اسلامي هېوادونو کې د مسلمانانو له اوسېدو سره سخت مخالفت لري او آن د کفر تر بريده يې رسوي .

د پورتني حالت سره ترڅنګ ، دوی د قرآن کريم يو شمېر آيتونه او احاديث شريف دليل نيسي . ډېری دلايل يې د ولاء او براء يا له غير مسلمو سره د دوستۍ او دښمنۍ (نفرت) پر بنسټ څېړي . الله تعالی فرمايي : ( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاء تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِالْمَوَدَّةِ ) سورة الممتحنة .

ژباړه : آی هغو کسانو چې ايمان مو راوړی زما او ستاسو دښمن په دوستۍ سره مه نيسئ .

دا ډله علماء ګومان کوي چې په غير اسلامي هېواد کې اوسېدل له هغوی سره ددوستۍ په مانا ده او دا کار کفر دی . دا ډله علماء هغه مسلمانان مکلف بولي چې بايد له غير اسلامي هيوادونو هجرت وکړي او هلته له اوسېدو تېر شي .

دوی همدا ډول د پېغمبر عليه السلام پر دې حديث شريف هم استدلال کوي :

عن جرير بن عبد الله أن رسول الله ﷺ قال: ( أنا برئ ممن يقيم بين أظهر المشركين )

ژباړه : د جابر بن عبدالله رضی الله عنه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : زه له هغه چا بيزاره يم چې د مشرکينو منځ کې ژوند کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیړونکی سلیمان توبولیاک وایي : هغه کسان چې په غیر اسلامي هېوادونو کې د ذلت شپې تیروي او نه شي کولی خپل دین ښکاره کړي او له خپلې عقیدې خوند واخلي ، دوی ته په کار ده چې باید له دې هیواده هجرت وکړي او په اسلامي هېوادو کې مېشت شي .

ددې ترڅنګ دا ډله علماء یو شمېر عقلي دلایل هم وړاندې کوي ، دوی وایې :

- په غیر اسلامي هېوادونو کې مېشت مسلمانان اړ دي چې د ذلت ژوند وکړي او دوی نه شي کولی د الله دین ښکاره کړي او په ښکاره توګه د الله تعالی عبادت وکړي .
- په دې کار سره د غیر مسلمو شمېر غښتلي کول دي . دا کار ددوی د قوت اسباب غښتلي کوي ، دی شاید مجبور شي چې د مسلمانانو خلاف حرکات وکړي او برخه ورکې واخلي .
- دوی په غیر اسلامي هېوادونو کې د مسلمانانو اوسېدل قطعي حرام بولي لکه زنا ، او د خنزیر غوښه خوړل .
- دوی وایي چې په راتلونکې کې نسل د انحراف لور ته ځي .
- دا کار د غیر اسلامي ټولنو د غښتلتیا لامل ګرځي او اسلامي هیوادونه کمزوري کوي .

## دویم : په غیر اسلامي هېوادونو کې اوسېدل روا او آن اړین کار دی :

دا ډله علماء بیا د تېرو هغو په اختلاف ډېر نرم دریځ لري ، دوی په دې آند دي چې په اسلامي هېوادونو کې د مېشتو مسلمانانو حقونه کله کله د هغو مسلمانو په پرتله ډېر ځپل شوي چې په غیر اسلامي هیوادونو کې ژوند کوي . دوی وایې ښایې په ځینو هېوادونو کې د ناوړه چاروا‌کو خلاف د غبږ پورته کولو پر وړاندې محدودیتونه موجود وي، هلته د مسلمانانو د آزادۍ، ملکیت ، امنیت ، انتقال ، او داسې نور حقونه تر سوال لاندې وي . نو علماء او پوهان چې کله په لویدیځو یا غیر اسلامي هېوادونو کې دمېشتو مسلمانانو په اړه کومه فتوا صادروي یا خبره کوي باید له ډېر احتیاطه کار واخلي . هغه علماء چې په ډېر صراحت او جرأت سره ( دار الکفر ، بلاد الکفر ...) او داسې نور درانده الفاظ کاروي دوی باید په دې باندې تجدید (بیا کتنه ) وکړي . دوی باید د عادلو او ظالمو هیوادونو او نظامونو ترمنځ تفکیک هم وکړي او د هغو ولسونو ترمنځ باید ډېر تفاوت وکړي چې په اسلامي هیوادونو کې دینی مقدساتو ته دومره ژمن نه دي ، څومره چې په غیر اسلامي هیوادونو کې ځینې مسلمانان ورته ژمن دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیخ قرضاوي آن له غیر مسلمو سره په خبرو کې په نرمۍ ټینګار کړی ، دی ټینګار کوي چې باید نرمه ژبه وکارول شي . دی وایې چې مُحَمَّد ﷺ د حدیبیې په سوله او له نجاشي سره په خبرو کې له نرمې لهجې کار اخیستی . نوموړي په دې برخه کې ډېر دلایل راخیستي دي . د عمر رضی الله عنه هغه لارښوونه یې بیان کړې چې نوموړي په بنو تغلب قبیله باندې یې د جزیې نوم په زکات بدل کړ ترڅو یو ډول له نرمښت څخه ورسره کار واخیستل شي.

غربي هېوادنو ته تګ او هلته اوسېدول یوه اجتهادي مسأله ده ، او په اجتهادي مسایلو کې قطعي خبرې او غوڅې فتواوې صادول سم کار نه برېښي . نو په اجتهادي احکامو کې یو فقیه ته نه دي په کار چې قاطع واوسي ، حال دا چې اجتهاد یو ډول نه یو ډول پر ګومان ولاړ دی او شاید ډېری وختونه مجتهد خطا واوسي . ځینې علماء چې په غیر اسلامي هېوادونو کې اوسیدل قطعي کفر او فسق بولي ، او دا کار له غیر مسلمو سره د ولاء او براء یا ددوستۍ او نفرت له زاویې مطالعه کوي ، دا د اجتهاد له تعریف سره منافي خبره ده . نو هغه موضوعات چې په اجتهاد ولاړ وي ، هیڅوک حق نه لري چې په قطعي توګه د کفر او یا داسې نور سخت او قطعي الفاظ وکاروي .

هغه علماء چې په غیر اسلامي هېوادونو کې د مسلمانانو د اوسیدو مخالف نه دي ، دوی د ولاء او براء ( دوستۍ او د ښمنۍ ) آیتونو باندې دلته استدلال غلط بولي ، دوی ټینګار کوي چې هغه کسان چې له مسلمانانو سره جنګ نه کوي ، د اسلام سپېڅلی دین په الممتحنه سورت او نورو مواردو کې لارښوونه کوي چې له دوی سره عدالت او انصاف کوم ناروا او ممنوع عمل نه دی بلکې قرآن کریم جنګي او عام وګړي جلا کړي . نو په دې اساس ویلی شو چې په اسلامي هیوادونو کې اوسیدل د ولاء او براء پر مساله باندې نه شو منفي کولی او نه باید دا موضوع له دې زوایې وڅېړل شي .

له شیخ سعید الکملي څخه پوښتنه وشوه چې آیا په غیر اسلامي هېوادونو کې د مسلمانو لپاره اوسېدل روا دي او که نه ؟ هغه ورته په جواب کې وویل :

که مسلمانان په غیر اسلامي هېوادونو کې خپل دیني شعایر په آزادانه توګه ترسره کولی شي ، هغوی لمونځ کولی شي ، د جمعې او اختر لمونځونو ته راټولېدلی شي ، روژې نیسي ، دعوت کولی شي ، حج ته تللی شي ، دوی هیڅ کوم ممانعت نه لري چې خپلو بچیانو ته د اسلام دین ورزده کړي ، نو ډېری علماء په دې آند دي چې هلته په اوسیدو کې کوم ممانعت او ستونزه نشته . هغه حدیث شریف چې پیغمبر علیه السلام ورکې فرمایلي دي او مخکې وړرته اشاره وشوه ( زه له هغه چا بېزاره یم چې د مشرکینو منځ کې ژوند کوي ) هدف ترې هغه یوازینی او منفرد مسلمان دی چې په داسې ټولنه کې ژوند کوي چې هلته هیڅ بل مسلمان نه وي ، مګر هغه هېواد چې هلته اسلامي ټولنې وي ، اسلامي مراکز وي ، هلته مسلمانان فعالیت لري ، نو په داسې ټولنو کې د مسلمانو اوسېدل هیڅ ستونزه نلري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوکتور مُحَمَّد خیر الشعال په دې برخه کې ډېر تفصیلي او خوندور بحث کړی ، هغه وایې :

اسلامي هېواد هغه هېواد ته ویل کیږي چې ډېری اوسېدونکي یې مسلمانان وي . او هلته اسلامي احکام ښکاره وي ، ددې په مقابل کې غیر اسلامي هېواد دی ، دلته مسلمانان کم وي ، او یا ورکې د اسلامي شریعت احکام نه ښکاره کیږي . دی وایې چې مالکیان او ابن حزم الظاهري په دې آند دی چې مسلمان ته نه دي روا چې په غیر اسلامي هېواد کې ژوند وکړي ، مهمه نه ده چې هلته له فتنې ډار موجود وي او یا نه. دوی د پېغمبر علیه السلام تېر حدیث شریف راخیستی او په دې باندې استدلال کوي چې وړاندې ورته تفصیلي اشاره وشوه .

خو جمهور علماء ، چې احناف ، شافعیان او حنابله دي ، په دې آند دي چې په غیر اسلامي هېوادونو کې د مسلمانانو اوسیدل روا دي او هیڅ کومه ستونزه نه لري ، خو دا په هغه صورت کې چې یو څوک وکولی شي خپل دین وساتلی شي او د ساتنې ټول شرایط ځان ته برابر کړي . دوی وایې چې کله مسلمان ځان امن کې بولي ، او په دې یقین وي چې زه خپل دیني شعایر اداء کولی شم نو بیا ورته په غیر اسلامي ټولنه کې اوسېدل روا دي . دلیل یې دادی چې رسول الله ﷺ هغو کسانو ته چې اسلام یی راوړ په مکه مکرمه کې یې ورته د پاتې کیدو امر وکړ ، چې یو یې د پېغمبر علیه السلام تره عباس بن عبدالمطلب هم وو ، پیغمبر علیه السلام له دوی غوښتنه ونکړه چې مدینې منورې ته هجرت وکړي . دا هغه مهال وو چې مکه مکرمه د مشرکینو او کافرانو مرکز وو ، هغه یو اسلامی هیواد نه وو خو عباس رضی الله عنه د پیغمبر علیه السلام په لارښوونه هلته پاتې شو او مدینې منورې ته یې دا مهال له هجرت ډډه وکړه .

همدا راز نجاشي هم مسلمان شو ، خو په خپل قوم او هېواد کې پاتې شو . کله چې هغه وفات شو ، رسول الله ﷺ وفرمایل : نن یو ډېر نېک انسان وفات شوی ، خپل صحابه کرام یې غیابانه جنازې ته راوبلل . حبشه هغه مهال یو غیر اسلامي هېواد وو ، خو نجاشي چې یو مسلمان وو ، ورکې یې ژوند کاوه . همدا ډول ، مسلمانانو له مکې مکرمې حبشې ته هجرت وکړ ، دوی هلته پاتې شول ، حال دی چې حبشه هغه مهال یو اسلامي هېواد نه وو . دا هغه مهال وو چې مسلمانان په مکه مکرمه کې له کړاوونو سره مخ وو خو د حبشې د عدالت په پاچاهي کې ، که څه هم هلته عیسایي حکمرانان ول ، مسلمانانو هلته هجرت وکړ او واوسېدل .

کله چې یو څوک په یوه ټولنه کې د خپلو دینو شعایرو په ترسره کولو کې له خطر سره مواجه وي ، او هلته نه شي کولی خپل دین وساتي ، هغه ته په کار ده چې داسې هېواد ته پناه یوسي چې هلته یې هم دین خوندي وي او هم ځآن . ټول علماء په دې متفق دي چې څوک په یو هېواد کې په خپل دین مطمئن نه وي او د خپل ځان د امنیت په اړه ډار لري ، دا ورباندې شرعي واجب او مکلفیت دی چې له دې هیواده ووځي . د جمعې د لمانځه بېلګه یې ویلې ، هغه څوک چې د جمعې د لمانځه لپاره امکانات نه لري ، دا امنیت او اجازه نه لري چې دیني شعایر ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي ، نو وربانديې لازمي ده چې له دې هيواده ووځي . دا هېواد ښايي اسلامي وي او يا غير اسلامي وي خو وتل ترې په کار دي .

## غورچاڼ :

په غير اسلامي هېوادونو کې د مسلمانانو اوسېدل له هغو موضوعاتو څخه ده چې علماء او پوهان ورکې ډېر غږېدلي خو په دې برخه کې له فتواوو څخه له ډېر احتياطه کار اخيستل په کار دي ، نن سبا چې په افغاني ټولنه کې يو ځوک خپل وطن پرېږدي ، لازمي ده چې په کور کلي کې خلک دهغه په اړه له بې احتياطه فتواوو څخه ډډه وکړي . په دې برخه کې فتوا يوازې د لسګونه زره يا سلګونه زره مسلمانو پورې اړه نه لري ، بلې د هغو نږدې نيم ميلياردہ مسلمانانو د يني او دنيوي سرنوشت پورې اړه لري چې په غير اسلامي هيوادونو کې نن سبا ژوند کوي .

په ننۍ نړۍ کې شاوخوا نيم ميليارد مسلمانان په غير اسلامي هېوادونو کې ژوند کوي، دا د هغو مسلمانانو کوچېدل او د اسلامي مراکزو د شتون برکت دی چې په دې هيوادونو کې نن فعاليت لري ، د مسلمانانو زياتېدل او معرفي کېدل دهغو مسلمانانو برکت دی چې دې هيوادونو ته کوچېدلي دي . هغه مسلمانان چې خپلو بچيانو ته اسلامي زده کړې ورکولی شي ، جوماتونه يې فعال وي، کولی شي خپل ديني شعاير په آزادانه توګه تجربه کړي ، اسلامي دعوت په آزادانه توګه وکړی شي ، نو ويلی شو چې ورځ تر بلې د مسلمانانو د شمېر زياتېدل يو ښه زيری دی . جمهور علماء په دې آند دي چې يو ځوک پر خپل دين او د بچيانو په راتلونکې مطمئن وي ، او په يو غير اسلامي هېواد کې د امنيت احساس کوي او خپل دين ته خطر نهويني ، او خپل مقدسات په خونديتوګه ترسره کولی شي ، نه يوازې دا چې هلته اوسېدل روا دي ، بلکې دا يوه اړتيا او مهم عمل دی .

د نږدې نيم ميليارد هغو مسلمانانو په اړه چې په غير اسلامي هېوادونو کې ژوند کوي ، ددوی د اوسېدو په خلاف قطعي فتوا صادرول او هغوی د اسلام له دايرې خارجول او مرتد ګڼل ، نه يوازې دا چې د اجتهاد له معيارونو سرغړونه ده او د اجتهاد غلط تعريف کول دي ، بلکې دا ډول فتواوې له مسؤوليته خالي نه وي او شايد د اسلام د پراخېدو د مخنيوي لامل شي او انسان ورکې د افتراء په ګناه مبتلاء شي . اړينه ده چې مسلمانان چې غير اسلامي هېوادونو ته ځي ، مکلف دي ددين او راتلونکي نسل د حفاظت او خونديتوب لپاره له ښنتلي پلانونو سره لاړ شي. ياده دې وي چې جمهور علماء په دې آند دي که يو مسلمان که په اسلامي او يا غير اسلامي ټولنه او هېواد کې د اسلامي شعايرو د ترسره کولو له خنډ سره مخامخ کيږي ، هغه اړ او مکلف دی چې له دې ځايه هجرت وکړي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**